لکه څرنګه چې ټولو ته معلومه ده معلولین د هېواد د وګړو مهمه برخه ده چې له بده مرغه په تیرو څو لسیزو کې د ژوندانه له راز راز کړاوونو سره لاس او ګرېوان وو او له هغو ناخوالو سره مخ شول چې د افغانستان په تاریخ کې سارى نه لري، د هېواد دغه مظلومه برخه په ډېرو ځایو کې له پام غورځول شوې وه او چا ورته پام نه کولو، خو له نېکه مرغه په تېرو څو کلونو کې او په ځانګړي ډول د شهیدانو او معلولینو وزارت په رامنځته کیدو سره د معلولینو ډېرو ستونزو ته د پاى ټکى کېښودل شو او په بېلابېلو برخو کې ددوى د وړتیا څخه ګټه پورته شوه، چې ښکاره بېلګه يې په دې وروستیو کې معلولینو او د شهیدانو کورنیو ته د شهیدانو او معلولینو وزارت د محترمو چارواکو پام دى چې دوى ته يې د کاري فرصتونو، وړتیا لوړونې اونورو برخو کې نه ستړې کیدونکې هلې ځلې کړي او لاهم دغه لړۍ روانه ده، د شهیدانو اومعلولینو وزارت د خپل جوړښت راپدیخوا توانیدلی چې دهېواد په بېلابېلو برخو او بېلابېلو ځانګو کې په زرګونو د شهیدانو د کورنیو غړي او معلولین په دندو وګماري ، دغه وزارت په پام کې لري چې د هېواد دغه له پامه غورځول شوې طبقه په خپلو پښو ودروي او په بېلابېلوبرخو کې د دوى له وړتیاوو ګټه پورته کړي.

د شهیدانو اومعلولینو وزارت چارواکي وايي په پام کې لري چې په راتلونکي ۱۳۹۹ کال کې د دغه وزارت دکارکوونکو د وړتیاوو د لوړونې په برخه کې ګوتڼلي ګامونه پورته کړي.

د دغه وزارت د بشري سرچینو رییس نیک محمد نېکمل په یوه ځانګړې مرکه کې څرګنده کړه چې د شهیدانو اومعلولینو وزارت ټول لوړ رتبه او ښکته رتبې مامورینو ته به په راتلونکي ۱۳۹۹ زیږدیز کال کې د وړتیاو د لوړونې په برخه کې روزنیز ورکشاپونه جوړ کړي.

د نېمکمل په وینا د وړتیا لوړونې پروسه يې لا وختې د کومک مؤسسې په مرسته پیل کړې چې تردې دمه يې ډېرو کسانو ته مسلکي روزنه ورکړې او همدارنګه يې د ۱۳۹۸ مالي کال په وروستیو څلورو میاشتو کې ۱۴۳ کسانو ته په بېلابېلوبرخو کې چې د دې وزارت کارکوونکو ورته اړتیا درلوده روزنه ورکړل شوېده او په ورته وخت کې يې شل تنه معلولیت لرونکي وګړي د ټاکنو کمېسیون ته د دندې لپاره ورپېژندلي دي.

نوموړی همداراز وایي د شهیدانو اومعلولینو وزارت به په راتلونکي زیږدیز کال کې د ولسمشر دفرمان ، دمالیې وزارت د بودیجي کمېسیون ته په کتو اود اداري اصلاحاتو د کمېسیون په هوکړې سره په نوو تشکیلاتو هم کار وکړي ترڅو اوسنی تشکیلات چې د معینت په کچه دی لوړ او ډېرو کسانو ته به د وزارت په کچه دکار زمینه برابره کړي .

ښاغلی نیکمل وایي ، د معلولینو وزارت د استختدام په برخه کې له دې وړاندې ۶۶ مرکزي او ۱۱ ولایتي بستونه اعلان کړل چې دامهال ولایتي برخه پای ته رسیدلې او توانیدلی چې د ازادو ازموینو له لارې د وړتیا وړ کسان په دندو وګماري. او د مرکزي بستونو آزموینې هم مخ په تمامیدو دي.

د بشري سرچینود رییس په خبره ، د تخینکي ټیم په مرسته یې د یو ډیټابیس جوړلو چارې پیل کړي ترڅو وکولای شي په بشپړیدو سره یې د ټولو کارکوونکو سوانح بشپړ او روښتیا په کې رامنځته شي.

په ورته وخت کې د شهیدانو اومعلولینو وزارت د بشري سرچینو رییس نیک محمد نیکمل وایي ، په وزارت کې د ښځود استخدام په برخه کې هم یولړ پلانونه په پام کې نیولي چې له مخې به یې په راتلونکي کې نجونې وهڅوي ترڅړ تشو بستونوته غوښتنلیکونه وړاندې کړي اود کاري وړتیا پربنسټ په دغه وزارت کې په دندو وګمارل شي.